**د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته**

**په افغانستان کې د عمومي منشي د ځانګړې استازې آغلې ديبورا لاينز وينا**

**نيويارک، ۲۶ جنوري ۲۰۲۲**

[څرنګه چې وړاندې شوې]

* * *

لومړی وزير او د شورا رئيس، سرمنشي، سفيرانو او همکارانو،

د نن ورځې په دغه بحث کې ستاسو ګډون د نړيوالې ټولنې لپاره د افغانستان د دوامدار ارزښت او همدارنګه د دغه هيواد د راتلونکې په اړه زموږ د ټولو د را ولاړېدونکو انديښنو د خورا زيات اهميت ښکارندوی دی. او په رښتيا دا د وياړ ځای دی چې دلته له خپلې ملګرې محبوبه سراج سره يم او د مدني ټولنې په استازيتوب د هغې مهم پيغام اورو.

کله چې په اګست کې کابل د طالبانو لاس ته پرېوت ملګرو ملتونه ژمنه وکړه چې پاتې شي او د بشري ناورين او د سياسي بې باورۍ په شېبه کې د افغانستان د وګړو په ملاتړ خدمتونه وړاندې کړي. د مرستندويانو د سخاوتمندانه مرستو په مټ زموږ د کار لومړنی تمرکز دا و چې تر شونې بريده له دغه سخت ژمي سره په مخ کېدو کې ناوړه بشري وضعيت کم کړو. پر هغه څه سربېره چې سرمنشي په دې اړه وويل، غواړم په هغه راپور پيل وکړم د کوم څه چې موږ يې د ترلاسه کولو وړتيا درلوده.

د ۲۰۲۱ کال تر پای ته رسېدو پورې، لکه څرنګه چې يې د سرمنشي له خوا يادونه وشوه، د ۱۰ ميليونه وګړو لپاره د خوړو او د ۱.۵ ميليونه وګړو لپاره د روغتيايي مرستو په ګډون نږدې ۱۸ ميليونه وګړونه ته د ژوند ژغورنې مرستې برابرې شوې. دا د ۲۰۲۰ کال پرمهال له ۱۱ ميليونه مرسته شويو وګړو سره د پرتلې وړ دي، کله چې رواني وچکالۍ او د کوويډ – ۱۹ وبا لا وار د مخه د بشري مرستو کارګران دې ته هڅولي وو چې د هغوي له پلان شويو لومړنيو اهدافو څخه ها خوا لاړ شي. تېر کال، د ۴۵۰ ټنه د ژوند ژغورنې د روغتيايي تدارکاتو په ګډون، د بشري مرستو په مټ په ټولو ولايتونو کې له ۲۰۰۰ څخه زيات د لومړنۍ او منځنۍ کچې روغتيايي مرکزونو سره مرسته شوې. د مرستو دغه پراخوالی د ښه شوي امنيتي وضعيت له امله تر يوه حده ممکن و او بشري فعالينو د هيواد هغو برخو ته لاس رسی درلود کومې چې د کلونو لپاره د لاس رسي وړ نه وې.

ښاغلی رئيس،

له پورتنيو معلوماتو په ډاګه کېږي چې موږ څومره لاسته راوړنې تر لاسه کړې، خو لکه څرنګه چې تاسو ټول پوهېږئ بشري اړتياوې لا اوس هم د سختېدو په حال کې دي. بشري ناورين ته د رسيدګۍ په پار چې موږ تېر کال د اټکل له مخې د يوه بيليون امريکايي ډالرو غوښتنه کړې وه اوس بايد د ۲۰۲۲ کال لپاره له ۴.۴ بيليونه نورې اضافي بشري مرستې سره يو ځای برابره شي لکه څرنګه چې يې زموږ په وروستۍ غوښتنه کې يادونه شوې. د دې په ياد کې ساتلو سره، دا په اټکلي ډول عين هغه اندازه ده کومه چې به مرستندويانو په يوه کال کې د جمهوريت د حکومت لپاره په ټوله عملياتي بودجه کې مصرفوله. په اوږدمهال کې دا په ډېر ساده ډول پايښت نه کوي. نو له همدې امله موږ په همهالې ډول د هغو بنديزونو د نرمولو لپاره مدافعه کوو – او دغې چارې ته دوام ورکوو – کوم چې د اړينو خدمتونو د بشپړې برابرونې مخه نيسي او د نغدو پيسو اقتصاد له پښو غورځوي. د نغدو پيسو د ناورين او د بانکونو د نه فعاليت له امله، موږ له يوه خورا فوق العاده حالت سره مخ يو چېرې چې خلک په بانکونو کې پيسې لري خو هغوي ته بشپړ لاس رسی نه لري څو خپلو کورنيو ته روزي برابره کړي يا خپل کاروبار پر مخ يوسي.

ښاغلی رئيس او د شورا غړو،

ستاسو له خوا په تېر دسمبر کې د بشري مرستو د معافیت پرېکړه لیک تصویب او د متحده ایالاتو له خوا د دوو نوو عمومي جواز لیکونو خپرېدلو داسې د قدر وړ اطمینان رامنځ ته کړ کوم چې زموږ بشري فعالیتونه تسهیل کړل. خوښه یم د دې خبر ورکړم چې نن ماسپښین موږ دلته په کابل کې په افغانستان کې د واحد – ملګرو ملتونو د انتقالي تعامل چوکاټ پیل کړي، د کومو لپاره چې موږ د ۳.۶ بیلیونه اضافه ډالرو په لټه کې یو. په دې سره د ۲۰۲۲ کال لپاره د غوښتل شوي مبلغ ټولټال اندازه اته بیلیونه ډالرو ته لوړېږي. دغه هر اړخیزه او د سیستم په کچه ستراتیژي د بشري بنسټیزو اړتیاوو یو رکن معرفي کوي څو د روغتیا او زده کړو په څیر اړین خدمتونه او دغه راز د ټولنې د زیربناوو ساتنه برابر شي او د ښځو او نجونو پر ټولنیزو-اقتصادي اړتیاوو له ځانګړي تمرکز سره معیشتونو او ټولنیز همغږیتوب ته وده ورکړل شي. دغه پانګونې په دې موخه طرح شوي چې د بشري وضعیت د لا زیات ناوړه کېدو مخه ونیسي او په واقعیت کې د اقتصادي ثبات کافي کچه رامنځ ته کړي څو په بې وزلې کې د ثابتې زیاتېدنې هغه کچې پر شا وتمبوي چې موږ یې شاهد یو، او له بلې خوا دا ډاډمنوي چې د مرستندویانو مهمې مرستې له خپل مسیر څخه و بل لوري ته نه دي منحرف شوې یا په ناوړه ډول نه دي کارول شوې.

او له دې سره سره، موږ پوهېږو چې مرستندویان د درک وړ احتیاط کوي څو لا زیات انعطاف څرګند کړي تر هغې چې هغوي په دې اړه یوه غوره نظریه نه وي ترلاسه کړې چې بر حاله اداره د کوم ډول حکومت د رامنځ ته کولو نیت لري. تېر مئ زیاتره مرستندویان د تعامل د هغو لارو چارو په اړه زړه نا زړه وو چې ښایي دغه کار له بر حاله چارواکو سره د خپلې ادارې په منسجم کولو کې مرسته وکړي یا د هغوي رژیم ته د مشروعیت ورکولو په څېر څرګند شي. پر دغه زړه نا زړه توب په موقت ډول لاس بری ترلاسه شوی څو له هغو افغان وګړو سره مرسته وشي څوک چې له غځېدلی بشري ناورین څخه اغیزمن شوي او له دغه بې رحمه ژمي سره مخ دي. له دې سره سره، ښکاره ده هغه مرستندویان چې له خپلو داخلي خلکو سره مخ دي، لا تر اوسه په افغانستان کې له ترسره شوي سیاسي پرمختګ څخه راضي نه دي او له نږدې نور هڅوونکي سیګنالونه غاري.

له دې امله موږ تمه لرو چې په راتلونکو میاشتو کې داسې ښکاره اقدامات ووینو – نه یوازې خبرتیاوې – کوم چې دا په ډاګه کوي چې طالبان له نړیوالې ټولنې سره د راتلونکي تعامل یوې تګلارې ته ژمن دي. له "تګلارې" څخه زما هدف د یو لړ واضحو او په دوه اړخیز ډول د درک وړ ژمنې دي، چې بشري حقونه به یې په سر کې قرار لري کوم چې به د داخلي مشروعیت د خوندي کولو له لارې د ملتونو له ټولنې سره د افغانستان د بېرته یو ځای کېدو لامل کېږي، او دا چې هغه به د افغانستان له معاصر تاریخ او د ده د خلکو له ارمانونو، د هغه له ګڼ توکمیزې ځانګړنې او د هغه له عنعنوي اسلامي هویت سره په سمون کې وي.

بر حاله چارواکو ځینې ګامونه پورته کړي چې د یوه حکومت په څېر په لا موثر ډول چارې پر مخ یوسي، لکه د بودجې په اړه پرېکړه چې په بشپړ ډول د هغوي له خپلو داخلي عوایدو څخه تمویل شوې، د حکومت د معاشاتو تادیه، د اداري فساد کموالی، د عوایدو ثابت راغونډول، د تېر کال په پای کې د پیسو د بې ارزښته کېدو د ناورین بریالی مدیریت، او له خصوصي سکتور سره د تعامل هڅې. په ښه ډول تنظیم شوي اقتصادي کنفرانس چې دوي یې تېره اونۍ کوربه وو د دې یو فرصت و چې د خصوصي سکتور د ودې پر بنسټ د ځان بساینې د ترلاسه کولو خپل اقتصادي لید لوری وړاندې کړي. خو د دغې چارې د بریا په موخه خصوصي سکتور د بې باورۍ له منځه وړلو، د پالیسي یوه با ثباته چاپیریال، د قانون واکمنۍ یوه باوري چوکاټ، او لوستو وګړو ته اړتیا لري.

د سیاسي شمولیت په تړاو، د سیاسي او د مدني ټولنې له غړو سره د پراخو سلا مشورو ځینې نښې نښانې لېدل کېږي. لوړ پوړو طالب چارواکو د قومی لړکیو له استازو سره لیدلي خو تر اوسه په دولتي جوړښتونو کې د پراخ قومي شمولیت په برخه کې ملموسې پایلې نه تر سترګو کېږي. د بهرنیو چارو بر حاله وزیر د روانې میاشتې په لومړیو کې په تهران کې له ځینو پخوانیو سیاسي مشرانو سره لیدلي. او هو، په تېرو څو ورځو کې په اوسلو کې د طالبانو د لوړ پوړي پلاوي او د هیواد له داخل او بهر څخه د مدني ټولنې د فعالینو ترمنځ ناسته ترسره شوې. زه د هغوي د ګډې بیانیې یوه برخه داسې نقلوم "د افغانانو ترمنځ درک/پوهاوی

او ګډه همکاري د افغانستان د ټولو ستونزو یوازینی حل ګڼل کېږي." د یادونې وړ ده چې طالب پلاوي په پراخه کچه دغه بیانیه منلې او اوس دوي باید پر هغې عمل وکړي.

غواړم له دغې موقع څخه په ګټې سره د ناروي د لومړي وزیر او د هغه له ټیم څخه د دغه پر وخت نوښت مننه وکړم پر کوم څه چې موږ ټول پوهېږو چې دا د مشروعیت بخښلو په مانا نه بلکې د یوه ټول شموله ډیالوګ ترسره کول و، څوک چې د دغه کار په ترسره کولو کې بریالي شول.

له بل پلوه، دلته په ساحه کې د ویرې د راڅرګندیدونکې چاپېریال او د بشري حقونو په تړاو د ناوړه وضعیت د رامنځ ته کېدو کره او قانع کوونکې شواهد شتون لري. دغه شواهد دا په ډاګه کوي چې د حکومتي چارواکو منسجم کېدل ښايي د وګړو د درک او د هغوي اړتیاوو ته د ځواب ویلو پر ځای د ویرې له لارې د کنترولو لامل شي. افغانان اوس د هغو ویرو په پرتله چې هغوي ورسره د لسیزو جګړو پرمهال مخ شوي له مختلفو ویرو – خو له واقعیت څخه ډیر لرې نه – سره ژوند کوي. د هغو وګړو لپاره له عمومي بخښنې سره سره چا چې له تېر حکومت سره یا د هغه په ملاتړ کار کړی، موږ لا اوس هم د دغو خلکو د وژنو، اجباري ورکېدنو او نورو هغو سرغړونو په اړه باوري تورونه ترلاسه کوو چې د قضايي چارواکو له خوا ورته رسېدنه نه ده شوې. پر دې سربېره، موږ د سیاسي مخالفینو، د مدني ټولنې د استازو او د نورو هغو کسانو چې د مخالفت غږ پورته کوي د زیات شمیر توقیفونو شاهد یو. موږ همدارنګه د رسنیو په فضا [چاپیریال] کې زیاتېدونکې محدودیت ملاحظه کړی، کوم چې تر یوه حده د اقتصادي لاملونو خو همدارنګه د بر حاله چارواکو د فشار له امله دی څو په داسې ډول راپور ورکړی چې پر هغوي نېوکه نه کوي. او زه باید شورا ته پر دې ټینګار وکړم چې موږ د یو شمېر هغو مېرمنو د برخلیک په اړه سخت اندېښمن یو څوک چې له خپلو کورونو تښتول شوي او نادرکه شوي. هیڅ افغان نه باید د شپې له خوا د هغوي د دروازې په ټکولو سره په وېره کې ژوند وکړي او هیڅ کورنۍ نه باید د هغوي د خپلو خپلوانو د ځای ځایګي او د هغوي برخلیک د معلوملو په اړه سرګردان شي. یوناما له بر حاله چارواکو سره د دغې او نورو پېښو په اړه په تعامل کې ده او له هغوي د دغه ډول قضیو د څېړلو غوښتنه کوي څو په دې تړاو واضح معلومات برابر کړي او عاملین یې د قانون منګولو ته وسپاري. موږ دغه کار ته ادامه ورکوو. او زه تمه لرم چې له بر حاله چارواکو سره زموږ پیاوړې اړیکې به په دې برخه کې د پایلو لامل شي.

ښاغلی رئیس،

طالبان څرنګه کولی شي چې د وېرې پر ځای د باور پر بنسټ حکومت کولو ته روښانه ژمنه څرګنده کړي، که چیرې په واقعیت کې دا هغه لار وي چې دوي یې ټاکې؟ لومړی، د دوي لپاره اوس د دې وخت را رسیدلی چې د ملي پخلاینې د پروسې په موخه یو پراخ ډیالوګ پیل کړي. نړیواله ټولنه به له دغه ډول پروسې سره مرسته وکړي، خو دا باید پیل شي او په بشپړ ډول د هیواد په د ننه او له هیواد څخه بهر افغانانو څخه جوړه شوې وي. سربېره پر دې، ټول شمولیت نه باید د یوې بهرنۍ غوښتنې په څېر بلکې د یوه دغه ډول متنوع هیواد لپاره د داخلي مشروعیت یوه اوږد مهاله او اړین سرچینه وشمېرل شي، چې په بشپړ ډول د روان ټیکاو لپاره خورا اړین ګڼل کېږي. جګړه د اوس لپاره پای ته رسېدلې خو سوله لا نه ده ټېنګه شوې. اوسنی نسبي ټیکاو له مختلفو اړخونو له جګړې څخه د ستړیا او د ټولنو او افرادو له خوا چې مازې پر ژوندي پاتې کېدو تمرکز کوي، پیاوړی شوی. دغه سوله، دغه ثبات نازک دي او که چېرې د حکومتولۍ لپاره داسې اقدامات ترسره نه شي چې باور او احتساب رامنځ ته کوي، او هغه چې د خلکو پر واقعي اړتیاوو تمرکز کوي - لکه پخپل حکومت کې د هغوي د ګډون اړتیا او حق، ښايي له منځه لاړ شي.

دویم، د نجونو د زده کړو موضوع ډېره مهمه ده. موږ د بر حاله چارواکو له خوا د وروستیو څرګندونو هر کلی کوو چې په ملي کچه به د هر عمر نجونې زده کړې ترسره کړي. ځینو نړیوالو مرستندویانو د افغان ښوونکو د جنوري او فبروري میاشتو د مالي مشوقونو د تادیې لپاره چمتوالی ښودلی، خو د راتلونکو مشوقونو د ورکړې په اړه به د دې له مخې پرېکړه کېږي چې بر حاله چارواکې خپلې ترسره شوې ژمنې پر ځای کوي که څنګه. خوښه یم څو خبر ورکړم چې یونیسف او د پوهنې وزارت په مارچ

میاشت کې د ټولو افغان هلکانو او نجونو پر مخ د ښوونځیو د پرانستلو په موخه د تخنیکي چمتوالي په اړه زیاتې ناستې ترسره کوي. یوناما همدارنګه د لوړو زده کړو په تړاو له بر حاله چارواکو سره خپلې ناستې جاري ساتلي، یو خورا مهم او زیاتره له پام غورځول شوی سکتور کوم چې په تېرو شلونو کلونو کې په ځانګړي ډول خوځنده او فعال و خو د وروستي اقتصادي ناورین له امله ویجاړ شوی.

درېیم، په افغانستان کې د تروریستي ډلو د مهارولو په تړاو د طالبانو د ژمنې تر شا باید لا زیات مهم اقدامات شتون ولري. شورا ته زما د تیرو معلوماتو له وړاندې کولو راهیسې داسې ښکاري چې بر حاله چارواکو د اسلامي دولت د سترو بریدونو د ترسره کولو وړتیا د محدودولو هڅه کړې، خو بیا هم د کوچنۍ کچې بریدونه په ځانګړي ډول د مذهبي لږکیو په وړاندې ترسره شوي. په افغانستان کې د ګڼو تروریستي ډلو شتون یوه پراخه نړیواله او په ځانګړي ډول سیمه ییزه اندېښنه ګڼل کېږي. د دغه ګواښ په وړاندې د بر حاله چارواکو د مبارزې لېوالتیا لا اوس هم په قانع کوونکې توګه ثابتولو ته اړتیا لري. له دې سره سره په ورته وخت کې، د دغه کار د ترسره کولو لپاره د خپل ظرفیت په تړاو د یوې ټاکلې اندازې ریالیسم/واقعیت ته اړتیا ده. د دغه ګواښ په له منځه وړلو کې د ګډې ګټې او لېوالتیا په پام کې نیولو سره، که چېرې بسیا باور رامنځ ته کېدای شي دا به د نړیوالې ټولنې او د بر حاله چارواکو ترمنځ د بالقوه همکارۍ ډګر وي. په دې اړه یوې نوې محاورې، یوه نوي ډیالوګ ته اړتیا ده.

ښاغلی رئیس،

غواړم د هغې احتیاطي خو رغنده تګلارې یادونه وکړم کومه چې سیمه ییزو هیوادونو د اګست راهیسې د افغانستان په وړاندې خپله کړې. لکه څرنګه چې د سرمنشي په راپور کې په مفصل ډول وړاندې شوي، په مختلفو بڼو ګڼ شمېر ناستې ترسره شوي. یوه هغه یې د اسلامي همکاریو د سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو وروستۍ فوق العاده ناسته وه چې په دسمبر میاشت کې د پاکستان په کوربتوب ترسره شوه. نوموړي سازمان هوکړه وکړه چې د افغانستان لپاره د بشري مرستو یو مالي صندوق رامنځ ته کړي او د افغانستان لپاره یې ځانګړي استازي وټاکه. موږ په رېښتیني ډول د یوه مهم شریک په څېر د نوموړي سازمان د زیات شوي تعامل هرکلی کوو او د ټول شمولیت، د بشري حقونو، د نجونو د زده کړو او په پراخه کچه د ګډو موضوعاتو په اړه له موږ او بر حاله چارواکو سره د هغوی د تعامل په تمه یو. خوښه یم تاسو ته خبر درکړم چې ما د افغانستان لپاره د دغه سازمان له ځانګړي استازي سفیر طارق علي بخیت سره په لوړه کچه یوه ګټوره ناسته درلوده، او موږ په ګډه د همکارۍ د هر اړخیزې اجنډا پر چمتو کولو کار کوو.

ښاغلی رئیس،

په اګست میاشت کې د ملګرو ملتونو د پاتې کېدو او خدمتونو وړاندې کولو د ژمنتیا په مټ موږ د اوس لپاره په یوه ښه موقف کې یو څو د افغان وګړو ملاتړ ته دوام ورکړو، د نورو هغو لپاره چې غواړي اضافي ملاتړ برابر کړي د توانمند کوونکي په څېر عمل وکړو، او د راتلونکې حل لارې په اړه له بر حاله چارواکو سره د یوه پل په څېر تعامل ترسره کړو. څرنګه چې سرمنشي یادونه وکړه چې هغه به په نږدې راتلونکې کې په افغانستان کې د راتلونکې سیاسي ماموریت په اړه خپلې سپارښتنې وړاندې کړي. دا د هغې انګېرل شوې اجماع پر بنسټ ولاړ دي چې دا د هیچا په ګټه نه دي چې په افغانستان کې د اوسني دولت د رنګېدلو شاهد و اوسي، خو همدارنګه دا چې له طالبانو سره دوامدار تعامل د مذاکره شوي لارې په اوږدو کې د پرمختګ لامل کېدای شي چې کولی شي د افغانستان د خلکو، د سیمې او نورې نړۍ په ګټه تمام شي. د دغې فرضیې ازموینه به په راتلونکو میاشتو کې زموږ دنده وي.

ښاغلی رئیس،

زه یو ځل بیا له تاسو د دغه فرصت په پار مننه کوم. د نن ورځې بحث او په لوړه کچه د هغه ګډونوال د افغانستان خلکو ته دا په ډاګه کوي چې د هغوی بد بختي له پامه نه ده غورځول شوې. دا زموږ صمیمانه او رېښتیني هیله په ډاګه کوي چې د

جګړې د اوسنۍ پای له لارې رامنځ ته شوی فرصت پر باعزته او با مسوولیته سولې بدل شي. موږ په راتلونکو اونیو کې د یوناما د راتلونکې ماموریت په اړه ستاسو بحثونو ته سترګې په لار یو او ستاسو پر ملاتړ باور لرو.

مننه

پای